**بسم الله الرحمن الرحيم**

# هغه څه چې ښځې له روژې نیولو څخه منعه کوي

**(ژباړه)**

له زینب بنت ابي سلمه څخه روایت دی چې ام سلمه رضی الله عنها وویل:

**«بَيْنَمَا أَنَا مَعَ، رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم فِي الْخَمِيلَةِ إِذْ حِضْتُ فَانْسَلَلْتُ، فَأَخَذْتُ ثِيَابَ حِيضَتِي فَقَالَ: "مَا لَكِ أَنُفِسْتِ". قُلْتُ نَعَمْ. فَدَخَلْتُ مَعَهُ فِي الْخَمِيلَةِ، وَكَانَتْ هِيَ وَرَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يَغْتَسِلاَنِ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ، وَكَانَ يُقَبِّلُهَا وَهُوَ صَائِمٌ»**

*ژباړه: ماته په داسې حال کې حیض راغی چې له پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره تر چادر (کمپل) لاندې مې ارام کاوه. له ځایه ورو څنګ ته شوم او له چادر څخه را ووتلم؛ وروسته مې خپله د حیض جامه راواخیستله او هغه مې واغوستله. رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته وویل: «ایا حیض شوې؟» ومې ویل: هو. له هغه سره چادر ته را دننه شوم. ام سلمه رضي الله عنها به له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په ګډه د اوبو له یوه لوښي څخه غسل کاوه او هغه صلی الله علیه وسلم د روژې په حالت کې نوموړې مچې کوله.*

دغه حدیث موږ ته هغه موضوع بیانوي، چې د ډېرو اقوالو او تېروتنو په سبب یې زیات شمېر مسلمانان په شک کې اچولي دي. دا موضوع په حیض (میاشتینی ناروغي) پورې تړاو لري. حدیث شریف بیان کړه چې ښځې باید د حیض او ناپاکی په حالت کې روژه ونه نیسي. پر همدې اساس پوښتنه پیدا کېږي، چې روژه له پاکی سره څه ډول اړیکه لري؛ په داسې حال کې چې جنب کس روژه نیولی شي؟ ځواب دا دی، هغه شرعي احکام چې له عبادت سره تړاو لري، له عقل څخه یې اخذ نه کېږي او د هغو لپاره علت نه پیدا کېږي؛ بلکې دغه احکام په مطلق ډول د الله له طرفه دي. پر همدې اساس الله تعالی ښځه د حیض (میاشتني عادت) په حالت کې له روژې نیولو څخه منعه کړې ده او د جنابت په حالت کې یې ښځې او نر ته اجازه ورکړې چې روژه ونیسي؛ نو ځکه هېڅ بحث او جنجال ته پکې اړتیا نشته. مګر له بده مرغه په موږ کې داسې دربدره خلک پیدا شوي دي، چې غواړي د عقل له لارې د اسلام او مسلمانانو لپاره عبادت طرحه کړي او بالاخره حکم یې بدل کړي.

بله موضوع چې په دغه حدیث کې بیان شوه، هغه دا ده چې مچي کول د مېرمنې او خاوند روژه نه باطلوي. رسول الله صلی الله علیه وسلم د روژې په حالت کې دغه کار ترسره کړی دی، په داسې حال کې چې هغه صلی الله علیه وسلم په ټولو چارو کې زموږ الګوه دی.

د دې لپاره چې په شک او ګناه کې ورګډ نشو، نو هڅه باید وکړو چې خپل عبادتونه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له تګلارې سره سم ترسره کړو. همدارنګه هغو کسانو ته باید نږدې نشو، چې زموږ د دین او عباداتو د فاسدولو هڅې کوي او موږ باید د هغوی لپاره په یوې نرمې او غوړې ګولې بدل نشو. موږ د الله تعالی مخلص بنده‌ګان یو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاره روان یو.

له الله تعالی څخه غواړو چې زموږ دین وساتي، روژې مو قبولې کړي، په مقابل کې یې موږ ته غوره بدله راکړي او زموږ قدمونه د دښمنانو پر وړاندې محکم کړي! اللهم آمین!

**لیکوال: ماهر صالح**

**ژباړن: طه خالد**